ليکونکې: *تيموتی الکساندر کوزمن* « **Tomothy Alexander Guzman** »

منبع او خپريدو نيټه : ***انفارميشن کليرنګ هوس «۲۰۱۵-۱۰-۴»***

ژباړونکې : ***پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل»***

---------------------------------------------------------

# «پوتين» د«اوباما» څخه پوښتنه وکړ : ددولتی حاکميت معنی څه دي ؟

## Putin Asked Obama : What is The Meaning of Sovereignty

*دملګرو ملتونو په اوياوم (۷۰) عمومی کلنی غونډه کی ددوه پيشبين کړل شوی وينا يعنی دامريکی د متحده اياﻻتو دجمهور ريس ښاغلی با رک «اوباما» اود روسيي دجمهور ريس ښاغلی وﻻديمير پوتين د خبرود اوريد لو ا تنظارنه يواځی دعمومی اسا مبلی ګډونکونکې بلکه دنړی ټول نړيوال ايستل.*



*دلته د تعجب ځای نه ليدل کيد ل اوهغه داچې نړالو ددی دواړو جمهورو ريسانو خبری په ډير پا ملرنی او غور سره اوريد ل ، بارک «اوباما»*

غونډی ته یو شوینیستی (عظمت طلبانه) وینا واورول چی په هغه کی د امریکی د متحده ایالاتو د نظامی قدرت په انعطاف پذیری با ندی ټینګار وکړ . حال دا چی ښاغلی پوتین دغونډی ګډونکونکو ته په مستقمیه او روک راست بنی سره یو ریښتینی او نسبی بربنډ وینا وړاندی کړ،لاکن ما ته د «اوباما» دوینا په وخت کی په واقعی بڼی سره یوحیرانتیاراپیدا شو او هغه داچی ولی ددی غونډی د ګډونکونکو څخه یوه استا ذی هم د«اوباما» دوینا په جریان کی خواه بده نشواوکا نګي ونکړاوبیا په ځا نګړی بڼی سره هغه چا چی د امریکی دامپراتوری تاریخ دلمړیو ورځو څخه بیا تر ننه پوری لوستلی یا اورید لی وی نو په ښکاره بڼی هغه ته لکه دلمر د وړانګی په څیر روښانه باید ښکاری شوی وی چی د اوباما وینا له پیل څخه بیا ترختمید و پوری ټول دروغ له حقیقت څخه لیری او ټول لافی وه اوباما خپل وینا ددوهمی نړیوال جګړی اوله تصوره څخه باندی داتومی بمب د قدرت په یا دونی سره پیل کړ.

هغه د خپل خبرو په دوام کی وویل : له ایروڅخه د دوهم نړیوال جګړی دراوتلو نه وروسته د شاهد ا نو دسترګو حال په لیدو داتومی عصر له تصور څخه دوتلی قدرت په موجودیت سره سره همد غه د امریکی متحده ایالات وه چی ددغه اسا مبلی دیوشمیر زیاتوهیوادونو سره په ګډه د مخکنی د ښمنا نو سره به جعلی یوالی ـ د یو پیاوړی دموکراسی په رامینځته کولو کوم چی وشی کړلی دخپلو خلکو دغوښتنو اودباندی دهرراز ځواکونو ځواب ګویی اووسی او هم دیوبین المللی نظام جوړونه چی ملګری ملتونو یواوبل ته سره برابر ارزش قایل شی اودهر هیواد حاکمیت په رسیمت سره وپیژندل شی وشو کړلی چی ددریم نړیوال جګړی د پیل مخه ونیسی . اوباما دخپل وینا په جریان کی په غیر مستقیم اودیو اخطاریه سګنال په ورکولو سره یاده کړ چی دامریکی متحده ایالات اوس هم دا بیاوړتیا لری چی د نورو دښما نا نود سرپه جګولو سره هغه ته داسی غاښ ما تونکی ځواب ورکړی لکه چی مونږ په دوهمه نړیوال جګړه کی جا پا نیا نو ته نه هیریدوکی سبق ورکړ نو که چیری بل کوم ځواک زمونږدګتی په مقابل کی ودریږی مونږچمتو یو چی هغه ته لکه دجا پا نیا نو په څیر ما تی ورکړو»ـ لکه چی اوس مونږ ټولوته معلوم دی چی جاپان دامریکی یو لاس ناستی اوچوپړ هیواد دی اودهغه دوکیناوا اونورو سیمو کی دامریکی د متحده ایالات نظامی اډی ځای پر ځای دی. دلته د اوباما دوینا

په نظر کی نیولو سره یوه پوښتنه پیداکیږی او هغه داچی اوس جاپان پرته دباندی هیواد دلاس وهنی څخه آزادی او پیاوړی د موکراسی لری ؟ چی وشی کړلی د خپلو خلکو د غوښتنو اوپه تیره بیا په اوکیناوکی د میشه جاپا نیا نو ځوابګو اووسی ؟ ځواب یی ډیرآسا نه دی او هغه داچی **نه !** بیځا یه به نه وی که چیری ښاغلی «اوباما » اوکیناوا ته لاړشی اودهغه ځای دخلکو څخه دخپل هیواد ددموکراسی دستا یل په هکله یو څه واوری چی دهغه ځای میشته خلکوهغه ته څه وایي ؟

ښاغلی «اوباما » دخپلو خبرو په دوام کی په ډیر زړه ورتیا اوجسارت سره د موجوده راولاړشوی (بوړنونکی شخړی اومخالفت ) په اړه وویل چی واشنګتن څنګه وشو کړلی چی دقانون حاکمیت په مخه ویسی .

هغه وویل چی له اوه لسیزو څخه را په دی خوا دغه موجوده بوړنونکی شخړه او مخالفت له حده وتلی قربانیان دځان سره لرل چی مونږ ا و تا سی ټول دهغه شاهدان یا ستو اودا مونږه وه چی ددی شخړی دمینځه وړلو د پاره په ډیر کراری – زغم - اوپه تتدریجی بڼی سره یوبین المللی قانونمند سیستم رامینځته کړ کوم چی دټول بین ا المللی نورمونو لرونکی یو ثابت سیستم دی چی دهغه دقوانینو په رڼا کی اوس کولی شو چی خپل مینځیګړی مخا لفتونه له مینځه ویسو چی دا پخبله یولوی بریا او کا میابی دی . د اوباما د خبرو په نظر کی نیولو سره با ید وویل شی چی امریکا د دوهم نړیوال جګړی څخه را وروسته په دی (۷۰) کلنو کی د ټولو موجوده شخړو – مخالفتونو – جګړی اوناکراری لمړی درجه مسول دولت دی اودلته ما اوځما د ملګری ویلیم بلوم سیاسیی فعال پواسطه سره دنمونی په بڼه (atwilliamblum.org) دامریکی دمتحده ایالاتو د دولت پواسطه سره هغه مداخلی چی دبا ند نی هیوادونو دحکومتونو په را نسکورولو کی اویا د نسکورولو په لته کی رول لوبولی دی په تاریخوار بڼی سره دستاسو دمعلوما تو دپاره وړاندی کیږی.

**چین له (۱۹۴۹)څخه بیا د (۱۹۶۰) کال تراوایلو پوری - البانیا ( ۱۹۴۹-۱۹۵۳) ختیځ جرمنی (۱۹۵۰ ) ا یران (۱۹۵۳) – ګواتیمالا (۱۹۵۴) – کوستاریکا د(۱۹۵۰ ) کال په نیما یی کی – سوریه ( -۱۹۵۶ ۱۹۶۷ ) - مصر (۱۹۵۷) – اندونیزیا ( ۱۹۵۷-۱۹۵۸) - بریتانوی ګینا( ۱۹۵۳-۱۹۶۴)–عراق(۱۹۶۳)–ویتنام شمالی ( ۱۹۴۵-۱۹۷۳) - کمبودیا**

( ۱۹۵۵-۱۹۷۰)- لاوس(۱۹۵۸-۱۹۵۹۰-   ۱۰۶۰)– ایکادور (-۱۹۶۰
۱۹۶۳) – کانگو (۱۹۶۴-۱۹۶۲) – فرانس(۱۹۶۵) -برازیل (۱۹۶۴ -
۱۹۶۲)- دومینیکان (۱۹۶۳) - کوبا (۱۹۵۹ تاهمین اکنون) – بولیوی
(۱۹۶۴) – اندونیزیا ( ۱۹۶۵) –گانا (۱۹۶۶) –چیلی ( ۱۹۶۴-۱۹۷۳) -
یونان ( ۱۹۶۷) – کوستاریکا( ۱۹۷۰-۱۹۷۱) – بولوبیا ( ۱۹۷۱)
استرالیا (۱۹۷۳-۱۹۷۵) انګولا( ۱۹۸۰-۱۹۷۵) – زایر ( ۱۹۷۵) –
پورتګال ( ۱۹۷۴-۱۹۷۶)- جامیکا (1976-1980) - سیچیلیس
(198101979) – چاد ( 1964-1973)- ګرینادا ( 1983) – یمن جنوبی (
1982-1984) سرینام ( 198201984) – فیجی ( 1978) – لیبیا ( 1980)
نیکاراګوا (1981-1990)- پانامه (1989) بلغاریا(1990) – البانیا ( 1991)
عراق (1991) – افغانستان ( 1980) – ونزویلا( 2002) – عراق ( 2003)
- هیاتی ( 2004)- سومالیا ( 1993 ) - یوګوسلاویا ( 1999-2000)
ایکوادور ( 2000) افغانستان (2001) – ونزویلا (2002) - عراق
( 2003) هیاتی(2004) هندوراس ( 2009) - - سومالیا (2007 تا همین
اکنون )- لیبیا ( 2011) سوریه ( 2012 ) اوکراین ( 2014).

**یاداشت :** ّ په پورتنی لست کی پرهغه هیوادونو باند ی چی په آبی رنګ سره په نښه شوی دی دامریکی پواسطه سره دهغو حکومتونه رانسکور شوی دی یعنی چی امریکا پخپل هد ف باندی رسید لی دی .

**پروفیسور نوام چامسکی یوځل ویلی وه چی له کال ( ۱۹۴۵) څخه راهیسی د امریکی متحده ایالات دولت زیار ایستلی چی له (۵۰) څخه زیات حکومتونه نسکور کړی – اود (۳۰) هیوادونو په دموکراتیکی انتخابا تو کی لاس وهنه کړی او پر (۳۰ ) نور وګړنی هیوادونو باندی بمب غورځولی دی لکه هغسی چی (اوباما) هم پخپل وینا کی په موضوع با ندی تماس ونیول او وویل :** « دنن ورځی مخکی تللی تکنالوژی افرادو ته د غلطو اطلاعاتو په خپرولو اواشاعه کولو کی دا سی قدرت او توان وربه برخه کړی چی کولای شی خپل مخالفین وځپی اوزمونږ ځوانان افراط ګرایی په لوری وهځوی دبلی خوا څخه د نړیوال پانګی جریان اوروند دقدرت اود پانګوالی دپرمختګ زمینه رابرابره کړی اما باید په ډاګه شی چی همدغه مخکی تللی تکنا لوژی

د ناروغیو دخطر کچه زیا ته کړی د کارګرانود چړنی وهنی قدرت یی ضعیفه کړی ا و د نابرابری لمن د خلکو ترمینځ لاپسی پراخه کړی دی.

دغه غږ د د موکراسی د پا ره لکه د یو ملی سوغات یا موقوفه په ځیر ترغوږ رارسیږی کوم چی دامریکی متحده ایالات اود بریتا نیا (بی بی سی) تولنیز عمده رسنی - نړیوال با نک - والستریت دا مریکی د متحده ایالاتو د پیسو نړیوال وجهی صندوق د خپل کار له پیل څخه د همدغی ورته غږ داوریدو د پا ره خپل دندی ترسره کوی .

ځنی کسا ن لاتراوسه په دی موافق دی چی دغه هیلی اوارمان دملګرو ملتونو د منشور پواسطه سره ترسره کیدای شی اویا داچی دیوی دوری د پاره وروسته له جګړی څخه دیوتاریخی میراث په بنه دپامه غورځول شوی اویا داچی دهغه ارما نی هیلی لرل زمونږ خپل دپاره منا سب ونه اووسی. بلکه هغوی په دی موافق دی چی دهغه قوانینو موثریت او اغیز منتوب هغه وخت تر سترګو کیږی چی هغه قوانین که چیری د بشر د تاریخ د ودی اود سمون دپاره دپکارورلو وړاومناسب وی نو باید چی له سره پرهغه باندی غور اوشی چی داپخپله ددی تعامل څخه مخکی له وخته یو روند او جریان ګټل کیږی . اوهغه په دی باور چی دلوبی د قدرت حاصل جمع صفر اوسی اویا دا چی داسی واقیعیت رامینځته کړی چی قدرتمند هیوادونو خپل اراده په زور سره پرضعیفو هیوادونو باندی تحمیل کړی چی په هغه صورت کی بیا دافرادو حقونه چندان مهم نه ګڼل کیږی اوهغه حقونه په یو وخت کی ډیر په بیړه دزور په لګولو سره تغیر مومی .

لهذا په دی بنیاد سره مونږ ځنی قدرتمند او ځواکمن هیوادونه دخپل سر په رنو سترګو ګورو چی په یو اویا په بل بنی او پلمی سره د بین المللی قوانینو– مقرراتو اودمیثاقونوڅخه سرغړونی کوی یا داچی مونږ ګوروچی ددموکراسیی اساسات اودبشر حقونه کوم چی ددی بین المللی نهاد (ملګری ملتونه ) ددندی دپاره ډیر اساسی مولفی دی تر پښو لاندی کیږی - اطلاعا ت تر وسه وسه پوری محدود ګرځول کیږی –داختلال (بی نظمی ) د مینځه وړلو د پاره د یو څه مادی اومالی مصارفاتو ضرورت لیدل کیږی چی دسنګرو په را نوی کولو اود پیسو په لګولو سره باید چی دتروریزم ریښی شنډی کړل شی اود باند نیو قوتونو د مداخلی څخه مخنیوی و شی .

ممکن کیدای شی چی ریښتیا شی ، او هغه دا چی دا مریکی د متحده ایالاتو حکومت وروسته د نړیوال دوهمی جګړی څخه په دی (۷۰) کلنو کی څه کړنی تر سره کړی نو د واقیعتونو په نظر کی نیولو سره داسی حقا یق تر لاسه شوی چی دغه حکومت دامریکی او د هسپا نیی د جګړی کال (۱۸۹۸) څخه را په دی خوا هڅه کړی چی په زوره سره خپل اراده وواک پر نورو هیوادونو با ندی تحمیل کړی فلهذا ښاغلی «اوباما ) دامریکی دمتحده ایالاتو نه لمړنی اونه وروستنی جمهور ریس دی چی زمونږ په سیاره کی دامریکنی ډول دموکراسی دپلی کولو دپاره له زور نه کار اخیستلی نه وی . .

***دا ښاغلی پوتین دروسیی جمهور ریس وه چی پخپل وینا کی د واشنګتن پر خارجی سیاست باندی له دی نه چی په سوریه کی د هغه هیواد د دولت له مخا لفینو لکه د سوری مینځګړی شورشیان - اسلامی دولت په شمول دنورو تروریستی ګروپونو څخه ملاتړ کوی په مستقیم او بربنډ بنی سره نیوکی وکړ په هرصورت ښاغلی پوتین یوتاریخی تازه واقیعت را په ګوته کړ اوهغه داچی دا دامریکی متحده ایالات اود هغه متحد (ناتو) وه چی په لیبیا کی ښکاره مداخله وکړ ل اوپه سوریه کی دداخلی جنګ د پیلولو دپاره له هیڅ راز هلی ځلی څخه ډډه ونکړ کوم چی دهمدی لاس وهنی په نتیجه کی په مینځنی ختیځ اود افریقی په شمال کی دبی نظمی او داخ ودب دراتلو زمینه را مساعد شو.***

د لته یوپوښتنه را پیدا کیږی او هغه داچی ***دولتی حاکمیت یعنی څه*** ؟ دغه د دولتی حاکمیت اصطلاح دلته زمونږ د ملګری له خوا وړاندی شو – کوم چی دولتی حاکمیت اسا سا دآزادی په مفهوم دی ، او هغه داچی هر هیواد او هر سړی آزاد دی چی خپل راتلونکی برخه لیک بی د نورو د مداخلی څخه دمشروع او قانونی منل شوی لارو په نظر کی نیولو سره وټاکی ! اما دیاده باید ونه ایستل شی چی دهیوادونو اوداشخاصو اتوریتی او اقتدار دتشو جملاتو او د دستکاری په وسیله سره نه ترلاسه کیږی او دا ځکه چی مونږ اوس په داسی یو نړی کی ژوند کوو چی د لته د بین المللی قوانینو اود بین المللی معیارونو اومیثا قونو له مخی هر پد یده او هر اصطلاح په علمی بنی سره تعریف شوی دی چی دغه تعریف د ټولو هیوادونو او نهادونو پواسطه سره په ورته بنی باید تعریف او تفسیر شی سره له هغه چی مونږ له مختلفو اړخونو

ځخه سره تو پیر لرو خو مګر منل شوی بین المللی قوانین مونږ ته پوره لاربښونه کړی چی با ید د منل شوی بین المللی قوانینوسره دمسولیت په احساس برخورد وکړواودهغه ځخه هر ډول سرغړونه پخپله دسرکشی په مفهوم دی .

ملګری ملتونه پر تولو با ندی د منل شوی مودل د پراختیا په اړه داسی فشار باید وارد نه کړی چی هر ځوک یا هرهیواد پخپل سر هغه تګ لاره کوم چی هغی ته ځا نګړی اهمیت لری پرنورو با ندی تحمیل کړی مونږ با ید له تیرو درسونو ځخه عبرت واخلو د مثا ل په بڼه : زه د خپل هیواد شوروی اتحاد مثال دلته راوړم اوهغه داچی کله شوروی اتحاد خپل ازما یښت شوی اجتماعی تجارب په زور اوفشار پرنورو هیوادونو باندی دهغو د تغیر د پاره دایدیولوژیکی دلایلو په نظر کی نیولو سره مسکو ځخه صادرکړ مو نږ ولید چی دڅه رنګ تراژیک اوناوړو نتایجو سره مخامخ شو یعنی دا نه چه هغه هیوادونه پرمختګ ونکړ بلکه برعکس دبد مرغیو او دتنزل سره مخامخ شول

په هرصورت داسی په نظر راځی چی په عوض ددی چی دتیرو خلکو د اشتباهاتو اودغلطیو ځخه یو څه زده کړو اوهغه اشتباهات بیا له سره تکرار نکړو **مګر بیاهم ځنو لا شته دی چی همغه اشتباهات له سره تکراروی یعنی هغه داچی لکه دشوروی اتحا د په بڼه چی انقلا ب صا درول اوس دوی نورو ته «دموکراسی» صادروی**.په ژوندی بڼی سره تاسی اوس وګوری د مینځنی ختیځ اود افریقی د شمال اوضاع ته کوم چی پرهغه با ندی مخکینی وینا کونکی رڼا واچوله ،**البته چی د لته په سیمه کی داږودی مودی ځخه را وروسته سیا سیی او اجتماعی ستون بند ی( یا ډلی ډلی ) شوی دی اوخلک دلته د تغیر په انتظار کی حالات ځاری اما د دی انتظا ر واقعی او ریښتنی حاصل اولاسته را تلنه څه دي؟ له دی نه چی دلته یولړ تولنیز ریفورم اوبهبودی راشی برعکس د تها جمی دوامدار لاس وهنی او مداخلی له کبله دلته هیوادونه او دهغوی حکو متونه او نهادونه اود خلکو د ژوند نورمال لاری چاری د خاوری سره خا وری شو اود مینځنی ختیځ خلکو دلویو ستونزو اوبد مرغیو سره اوس لاس په ګریوان دی .یعنی د دموکرسی اودبرمختګ په عوض دلته نوی شخړی ــغربت (بی وزلی) اجتماعی تهلکه اودبشری حقونو دنه احترام کولو او بالاخره د نورما ل ژوند د لارو چارو دبند ید لو ستونزی سر راپورته کړ . پوتین دخپلو خبرو په دوام وویل دلته**

***زه غواړم چې یو پوښتنه وکړم اوهغه داچې ددی حالاتو دمینځ راتلو اصلی عامل څوک دی ایا تاسی کوم چې په نړی کی د دغه دول ستونزی د پرمختک دپاره هلی ځلی ترسره کوی ایا حداقل دځا نه مو پوښتنه کړی چې تا سی څه کوی او څه کول غواړي؟ زه ډیر داریږم چې زه به ددی سوال ځواب تر لاسه نکړم اوهغه داچې دوی یعنی د نړی داوضاعو دخرپر تیا مسولین دخبل هغه له مغروره ډک چلن اوسیاست په لرلو سره چې دخودخواهی ـبلند پروازی پرستونو باندی ولاړ دی اوداسی فکر کوی چې هغوی له مجا زاتو څخه معافیت لری خپل بی قیضی آس هری خواته د نورو خلکو په قلمرو باندی ځغلوی .***

*دلته ښاغلی پوتین کاملاْ حق په جا نب وه اوهغه داچې هغه دلیبیا تاریخی تا زه واقیعت اود سوریی پرحالاتو با ندی اظهار نظر وکړ*.حال داچې ښاغلی اوباما دبین المللی په صحنه کی ( تبلیغ = پروپاګند)وپیرودل ، داوباما په قول سره دامریکی متحده ایالاتوهره مخکینی جمهورو ریسا نو داسی په ډاګه کړی چې امریکی په نړی کی یو استثنای او بی مثا له هیواد دی چې د همدی قوق العادګی په لرلو سره دا حق لری چې خپل (دموکراسی) د نړی پرنورو هیوادونو با ندی تحمیل کړی ، اوباما وویل : سیاست اوهمبستګی په شیطانت سره اړین دمذهبی فرقه ګرایی – قومی اوقبیلوی تنګنظری افراطی وطنپا لنه په اوسنی وخت کی ځان دیو قدرت اویا دیو ځواک په څیره را ښکا ره کوی اما دوخت په تیریدو سره دغه قدرت کمزوره کیږی یا دناتوانی په لوری ځي اوتاریخ مونږ ته وایی چې دغه توره تیا ره او ظلما نی قدرت چې د یو ډول سیاسی ډلو ټپلو پواسطه سره په لاره کی ولویږی نو په یقین سره چې زمونږ مصونیت ته یو ګواښ دی کوم چې مو مخکی اصلاْ ددی ډول ګواښ سره نه وه مخا مخ شوی نو که چیری مونږ بیا له سره بیرته شا ته واوړو نو په هغه صورت کی به هیڅ لاسته راوړنه به ونه لرو .

لیبیا مخکی یو آزاد اومستقل هیواد وه اما کله چې واشنګتن دهغه هیوادپه چارو کی لاس وهنه پیل کړ د تیری او د تهاجم طرح یی را مینځته کړ نو ډیر زر په هغه هیواد کی هرج اومرج را پیدا شو یعنی مخکی له هغه چې دامریکی متحده ایالات اود هغه د ارکستر ملګری (نا تو) پرلیبیا باند ی تهاجم وکړی لیبیا دافریقی په وچه کی یوله ډیر مخکی تللی اوسمسور هیواد وه-

امریکی دخپل ناوړی خارجی پالیسی په رڼا کی غواړی چی په سوریه کی دسوری رژیم ته تغیر ورکړی یعنی غواړی چی د خپل خوښی او لاس ناستی رژیم هلته په قدرت ورسوی ،نو دهمدی وضع په نظر کی نیولو سره روسیه هم مجبورشو چی په دغه نارامه او جګړیزه ډ ګر کی ګا م کیږدی چی په دی صورت سره سیمه لا پسی کړکیچن اوایران هم د ګواښ سره مخامخ شو واشنګټن غواړی اویادواشنګتن هد ف دادی چی خپل اراده پرسوریه باندی لکه همغسی چی پر لیبیا باندی تحمل کړ واچوی ، چی هرومرو د هغه پا یلی اویا دهغه انجام بی له فاجعه او ناورین به بل شی نه وی . د لته یو سوال را پیدا کیږی چی واشنګتن د څه د پا ره په دی لټه کی دی چی لیبیا وران کړی او معمرالقذافی له مینځه ویسی لکه چی اوس په سوریه کی د بشر الاسد پسی اخیستی دی – دسوال ځواب ډیر آسان دی او هغه داچی لیبیا یومستقل هیواد وه اودلیبیا دحاکمیت غوښتنه داوه چی په افریقی کی ددالر چلن شنډ کړی او تول تجارتی راکړی ورکړی په طلای دینا ر سره معا مله شی چی دا موضوع دامریکی د متحده ایالاتو د پاره هیڅ د زغم وړ نه وه نوپه همدی بنیاد سره د ا مریکی د متحده ا یالاتو د نیو کان(Newcon) ډلی ټپلی پواسطه سره د بوش د زمامداری په وخت وروسته د (۹/۱۱) پیښی څخه پر معمرالقذافی باندی د کودتا پلان نقشه کړ ، اوکله چی شاغلی اوبا دسپینی مانی پر چوکی باندی ډډه ولګول نو همغه وه چی د نیوکان د ډلی نقشه پلی کړ – دسوری مشروع دولت چی د اسلامی دولت پروړاندی له خپل ځان څخه دروسی دنظامی او سیاسی لاربښودنو په واسطه سره دفاع کولای شو همدغه واشنګتن وه چی دسوری دحالاتو دخړ پړ کولو دپاره له هیڅ ډول دسیسی څخه ډډه ونکړنوکه چیری احیاناْ دسوری جمهورریس بشرالاسد دداعش د شورشیانو په واسطه سره نسکور شی نو په هغه صورت کی به سوریه دخاوری سره خاوری شی لکه چی لیبیا – عراق افغانستان دامریکی دمتحده ایالات اودهغه دمتحد (ناتو) په تهاجم او مداخلی سره د خاوری سره خا وری شو نو کله چی دامریکی دغه پلان عملی شی نو وروسته له هغه بیا دامریکی ایالاتو دولت - اسرایل اود خپل نورو ګوډاګی متحد ینو سره په ګډه دلبنان د حز ب الله اودایران دتارومار کیدو دپاره به سره په ګډه کار پیل کړی .

***ممکن دی چی« اوباما »خپل وینا پخپله واوری*** ؟ لکه هغسی چی اوباما

پخپل وینا کی وویل : چی دشیطان  پواسطه  سره دښمن ته دوړاندی تګ زمینه دمذهبی تفرقه ګرایی – قومی اوقبیلوی  تنګنظری  - افراطی وطنپا لنه  مساعد ګرځول کیږی  بخپله داوباما وینا  له افراطی وطنپا لنی او عظمت  طلبی څخه یوه ډکه وینا وه چی دملګرو ملتونو اویاوم عمومی غونډی ته وړاندی کړدا باید په ډاګه شی چی دامریکی دمتحده ایالاتو باندنی پا لیسی  ددوهم  نړیوال جګړی څخه  په بشپړه بڼی سره دجنګ اود جګړی  سیا ست دی  چی ټولو  نړیوالو ته لکه دلمر دوړانګی  په ځیر راښکا ری  حا ل داچی  د« پوتین» وینا  پرحقیقی اوریښتینو پا یو اوستنو با ندی  ولاړ یوه  وینا وه    اوهغه داچی پوتین دامریکی دجمهور ریس ښاغلی «اوباما»  دوینا برخلاف په نړی کی  سوله – همبسګتی اوآرامی غواړی – نو دهمد پورتنیو دلایلو په نظرکی نیولو سره ما ته یوسوال بیدا کیږی اوهغه داچی  ا یا ددی ا مکان لیدل کیږی چی روسیه – چین اوایران سره په ګډه  د امریکی  د متحده  ایالاتو  د  تخریبی  پروګرامونو  مخه  ونیسی – نوکه چیری تا سی ماته خوش باور  هم ووایی زه کاملاً ایمان لرم چی په ډیر نژدی وختونو کی به دغه دری واړه هیوادونه دځنو نوروهیوادونو سره په ګډه دامریکی د متحده ایالاتو دبلند پروازی مخه به ونیسی .

------------------------------------------------                **په درنا وی**

.